آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

مصطفی پسرلی
۲۰۱۹/۰۴/۲۵

# د سولې په نامه روان مضمون..

## غزل

مستي وې، ولولې وې خو جنون تيې، تپي کړې
ښايسته د وصال شپې وې خو بېلتون تيې، تپي کړې

مکرونو، فريبونو، حرص، هوس ونړولې
ودان وې تش په نوم يې د سمون تپې، تپي کړې

روانــه ده، راځي بــه، دا نـو ځرنګه راتله دي
د سولې په نامه روان مضمون تپې، تپي کړې

قانون د انسانيت په دې ځنګل کې نه چلـېږي
زور بر دی د زورواکو دې قانون تپې، تپی کړې

ژوندون ته دې د امن او د سولې فضا نه شته
پسرلېه! هره ورځ د زړه چاودون تپې، تپي کړې



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com